DTM AFGHANISTAN

# د تحرکاتو بنسټیزه ارزونه

بغلان
د پایلي لنډیز
اوم پړاو . اکتوبر - ډسمبر ۲۰۱۸



د بغلان ولایت پـه نهریـن ولسـوالۍ کـې شـدیدو سـیلابونو د ژوندانـه وضعیت په خرابـه توګـه اغیزمن کـړي دي. د دې سـیلابونو له امله سـړکونه بنـد شـوي او د میشـت فرصتونه لـه منځه تـللي. IOM © ۲۰۱۸

## د بېځایه کېدوونکو د تعقیب سیستم (DTM)

د بېځایـه کېدوونکـو د تعقیـب سیسـتم داسـې یو سیسـتم دی چـې د خلکـو د بېځایه کېدنې او تحـرک لـه بهیـر څخـه تعقیـب او څارنه کوي. دا سیسـتم په سیسـتماټیک ډول د معلوماتو راټولولـو، پراسـس کولـو او خپرولـو لپـاره جوړ شـوی ترڅـو وکـولای شي د تحرکاتو او په سـیمه او یـا لاره کـې د بېځایـه شـویو خلکـو هغـه اړتیـاوو پـه هکلـه چې د بدلـون په حـال کې دي شـه پوهـاوی منځ تـه راولي. د DTM په اړه د لا زیاتو معلوماتـو لپاره www.displacement.iom.int/afghanistan څخـه کتنه وکړئ.

پـه افغانسـتان کـې، DTM د تحـرک د ارزونې بنسـټیزه وسـیله کاروي ترڅـو د تحرکاتو څخه څارنـه، د جبري بېځایـه شـویو کسـانو د نفـوس کچـه او موقعیـت تشـخیص، د بېځایـه کیـدو علـت، اصلـی سـیمې، د بېځایـه کېدو مهـال، لومړني ډیموګرافیکـي معلومـات، زیانمنتیاوې او د اړتیـاوو د لومړیتوبونـو څخـه څارنـه وکـړي. معلومـات د کلیـو پـه کچه د ډله ایـزو بحثونو، مخامـخ کتنـو او کلیـدي معلوماتـو ورکوونکـو سره د مرکـې لـه لارې راټولېږي.

DTM پروګـرام، د کډوالـۍ نړیـوال سـازمان او ملګـري سـازمانونو تـه دا پیاوړتیـا ورکـوي چـې سرچینـې پـه اعظمـي توګـه لـوړې کـړي او لومړیتوبونـه وټاکـي ترڅـو د شـواهدو پـر بنسـټ هدفمند، دوامداره او د حرکت پر وړاندې د پایدارو او حساسـو بشردوسـتانه مرسـتو پروګرامونه وړانـدې کـړي او د ټولنـې د بیـا یوځـای کېدنـې، ثبـات او پراختیـا څخـه ډاډ ترلاسـه شي.

## ۵ د موخې وړ جمعیتونه

DTM د تحرکاتـو بنسـټیزې ارزونې له لارې د لاندې ۵ اسـاسي جمعیتونـو کټګوریو موقعیت، نفـوس او څو سـکټوریزې اړتیاوې څاري:

۱. بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي

هغه افغانان چې لږ تر لږه د ۶ میاشتو لپاره د هیواد څخه بهر اوسېدلي وي او اوس راستانه شوي وي

۲. بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان

هغه افغانان چې بهرنیو هېوادونو ته تللي او یا کډه یې کړې وي

داخلي بېځایه شوي په لاندې درېو کټګوریو وېشل شوي دي:

۳. داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

د ارزول شـویو کلیـو څخـه هغـه افغانـان چـې د داخـلي بېځایه شـویو په توګه یې خپلې سـیمې پرېښـې ترڅـو د افغانسـتان دننـه پـه یوې بلې سـیمې کـې ژوند وکړي

۴. رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

د نورو سیمو څخه داخلي بېځایه شوي کسان چې اوسمهال په یوه ارزول شوي کلي کې ژوند کوي

۵. راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

هغـه افغانـان چـې د ارزول شـویو کلیـو څخـه پخوا د داخـلي بېځایه شـویو په توګه تلـلي ول او اوسـمهال خپلـو کورونو ته بېرته سـتانه شـوي دي

۵ د موخـې وړ جمعیتونـو لپـاره د نفـوس د کچـې معلومـات د هغـوی د بېځایـه کېدنـې پـر مهـال د دې زمـاني جوړښـت پـر بنسـټ راټولېـږي: ۲۰۱۲-۲۰۱۵ . ۲۰۱۶ . ۲۰۱۷ . ۲۰۱۸

## لنډه کتنه

**۱۵** ولسوالۍ وارزول شوې
**۵۶۱** کلي وارزول شول

**۲،۶۱۷**
کلیدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۱۲۳،۳۶۸**
بهرنیو هېوادونو څخه راستنېدونکي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۶۶،۷۸۳**
داخلي بېځایه شوي کسان په کوربه ټولنو کې ژوند کوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۲۹۵،۶۴۸**
پخواني داخلي بېځایه شوي کسان اوس خپلو سیمو ته بېرته ستانه شوي[۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۰۲،۳۵۹**
کسان د هېواد څخه بهر ته کډوال شوي [۲۰۱۲-۲۰۱۸]

**۱۷،۸۰۶**
کسان اروپایي هېوادونو ته کډوال شوي (د ټولټال کډوالو له ډلې ۱۷٪)

**۱۳۲**
راستنیدونکي او داخلي بېځایه شوي په خېمو او یا آزاده فضا کې ژوند کوي

**۳ څخه ۱**
کس په بغلان ولایت کې د راستانه شوي داخلي بېځایه شویو له ډلې څخه دی – بغلان ولایت د هېواد په کچه د راستانه شوي داخلي بېځایه شویو کسانو څلورم لوړ شمېر لري

**۱۰۵،۰۳۸**
کسان په بغلان ولایت کې بازارونو ته هېڅ لاسرسی نلري – بغلان ولایت د هېواد په کچه د بازارونو اړتیا څلورم لوړ شمېر لري

**۳ څخه ۱**
راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي په بغلان جدید ولسوالۍ کې ژوند کوي

**۴ څخه ۱**
۲۵٪ کورنۍ په بغلان ولایت کې ښوونځیو ته هېڅ لاسرسی نلري – بغلان ولایت د هېواد په کچه ښوونځیو ته د اړتیا پنځم لوم شمېر لري

**۲۶،۹۲۵**
کسان (۵۹٪) په پلخمري ولسوالۍ کې روغتیایي خدمتونو ته هېڅ لاسرسی نلري

**۱۹,۱۶۵**
کسان په بغلان جدید ولسوالۍ کې د څښاک اوبو ته هېڅ لاسرسی نلري

## په ټولو ۵ د موخې وړ جمعیتونو کې بېځایه شوي کسان | د ولسوالیو په کچه لنډه کتنه

| ولسوالی | مجموعي نفوس * | ټولټال راغلي کسان (راستنیدونکي + رارسیدلي داخلي بېځایه شوي) | د نفوس سلنه | له بهرنیو هېوادونو څخه راستنیدونکي | د نفوس سلنه | داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښي | د نفوس سلنه | رارسیدلي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | د نفوس سلنه | بهرنیو هېوادونو ته کډوال شوي کسان | د نفوس سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پلخمري | ۲۳۳,۰۰۹ | ۴۵,۴۸۳ | ٪۱۶ | ۲۳,۰۵۶ | ٪۸ | ۱۵,۵۹۳ | ٪۷ | ۲۲,۴۲۷ | ٪۸ | ۸۵,۶۰۱ | ٪۳۷ | ۱۷,۱۴۱ | ٪۷ |
| بغلان جدید | ۱۹۰,۶۰۴ | ۶۲,۱۷۱ | ٪۲۵ | ۳۷,۴۹۶ | ٪۱۵ | ۱۷,۸۳۲ | ٪۹ | ۲۴,۶۷۵ | ٪۱۰ | ۱۲۲,۸۲۲ | ٪۶۴ | ۲۰,۶۹۱ | ٪۱۱ |
| دهنه غوري | ۶۴,۳۱۷ | ۱۰,۰۹۳ | ٪۱۴ | ۸,۲۵۹ | ٪۱۱ | ۱۸,۲۱۹ | ٪۲۸ | ۱,۸۳۴ | ٪۲ | ۴۷,۶۱۷ | ٪۷۴ | ۱۱,۱۶۱ | ٪۱۷ |
| دوشي | ۷۳,۰۱۱ | ۲۰,۶۶۶ | ٪۲۲ | ۱۷,۶۷۹ | ٪۱۹ | ۳,۷۳۹ | ٪۵ | ۲,۹۸۷ | ٪۳ | ۲,۰۸۶ | ٪۳ | ۵,۳۸۵ | ٪۷ |
| نهرین | ۷۵,۶۸۲ | ۱۵,۸۰۹ | ٪۱۷ | ۹,۴۵۱ | ٪۱۰ | ۶,۵۴۷ | ٪۹ | ۶,۳۵۸ | ٪۷ | ۶,۷۸۳ | ٪۹ | ۸,۲۶۷ | ٪۱۱ |
| تاله و برفک | ۳۲,۹۷۷ | ۴,۵۱۷ | ٪۱۲ | ۳,۵۲۳ | ٪۹ | ۱۴,۱۵۴ | ٪۴۳ | ۹۹۴ | ٪۳ | ۱,۱۶۹ | ٪۴ | ۴,۶۹۶ | ٪۱۴ |
| خنجان | ۳۳,۲۳۴ | ۵,۵۵۸ | ٪۱۴ | ۴,۴۰۲ | ٪۱۱ | ۲,۶۰۴ | ٪۸ | ۱,۱۵۶ | ٪۳ | ۲۳۸ | ٪۱ | ۵,۷۶۰ | ٪۱۷ |
| اندراب | ۲۷,۸۴۳ | ۱,۴۳۵ | ٪۵ | ۹۷۳ | ٪۳ | ۲,۶۷۹ | ٪۱۰ | ۴۶۲ | ٪۲ | ۳۹۲ | ٪۱ | ۱,۵۸۵ | ٪۶ |
| خواجه هجران (جلګه ) | ۲۶,۰۴۷ | ۱,۸۴۱ | ٪۷ | ۱,۶۳۸ | ٪۶ | ۱,۶۴۴ | ٪۶ | ۲۰۳ | ٪۱ | ۲,۴۶۴ | ٪۹ | ۲,۰۷۲ | ٪۸ |
| برکه | ۵۷,۴۸۵ | ۱۲,۹۲۶ | ٪۱۸ | ۸,۷۶۵ | ٪۱۲ | ۶,۰۵۲ | ٪۱۱ | ۴,۱۶۱ | ٪۶ | ۱۰,۳۹۱ | ٪۱۸ | ۱۰,۶۴۵ | ٪۱۹ |
| پل حصار | ۳۰,۱۵۴ | ۲,۷۶۴ | ٪۸ | ۲,۲۱۱ | ٪۷ | ۱۳,۸۸۵ | ٪۴۶ | ۵۵۳ | ٪۲ | ۱۰,۱۰۰ | ٪۳۳ | ۴,۱۱۱ | ٪۱۴ |
| ده صلاح | ۳۴,۹۰۱ | ۱,۲۸۰ | ٪۴ | ۱,۰۵۶ | ٪۳ | ۲,۶۹۵ | ٪۸ | ۲۲۴ | ٪۱ | ۷۵۶ | ٪۲ | ۱,۱۲۵ | ٪۳ |
| خوست و فرنګ | ۶۸,۹۰۵ | ۳,۹۸۶ | ٪۵ | ۳,۳۹۸ | ٪۵ | ۴,۳۶۹ | ٪۶ | ۵۸۸ | ٪۱ | ۳,۷۱۷ | ٪۵ | ۶,۰۷۳ | ٪۹ |
| ګذرګاه نور | ۱۱,۰۳۵ | ۱,۱۷۴ | ٪۱۰ | ۱,۱۳۲ | ٪۹ | ۲,۸۰۰ | ٪۲۵ | ۴۲ | ٪۰ | ۱,۱۶۲ | ٪۱۱ | ۲,۹۶۵ | ٪۲۷ |
| فرنګ و غارو | ۱۸,۰۹۳ | ۴۴۸ | ٪۲ | ۳۲۹ | ٪۲ | ۷۵۶ | ٪۴ | ۱۱۹ | ٪۱ | ۳۵۰ | ٪۲ | ۶۸۲ | ٪۴ |
| مجموعه | ۹۷۷,۲۹۷ | ۱۹۰,۱۵۱ | ٪۱۶ | ۱۲۳,۳۶۸ | ٪۱۱ | ۱۱۳,۵۶۸ | ٪۱۲ | ۶۶,۷۸۳ | ٪۶ | ۲۹۵,۶۴۸ | ٪۳۰ | ۱۰۲,۳۵۹ | ٪۱۰ |

* د نفوسو معلوماتي سرچینه: د ۱۳۹۷ (۲۰۱۸ – ۲۰۱۹) کال په اړه د احصائې او معلوماتو ملي اداري *(NSIA)* اټکل

سیمبولوجي: د موخې وړ جمعیت ≥ ۲۰۰,۰۰۰    د نفوس سلنه ≥ ۲۵٪



دوارو طبیعي پیښو او جنګ په بغلان ولایت کې زیربناوې په شدت زیانمنې کړي، لکه دا شوونځۍ چې د ډېرو نورو سیلاب ځپلیو شوونځیو یوه نمونه ده او بغلان ولایت له همدې امله پنځم لومړنی ولایت دی چې شوونځیو ته ډېره اړتیا لري.© IOM ۲۰۱۸

## تګلار

د بېځايه کېدوونکو د تعقيب سيستم د تحرکاتو بنستيزې ارزونې اصلي موخه په افغانستان کې د تحرکاتو او بېځايه کېدنې تعقيب ده ترڅو وکولای شي د بېځايه کېدوونکو، راستنېدونکو، کډوالو، پناه غوښتونکو، مرزي قبيله وي ډلو، کوچيانو او نړيوالو کارګرانو د نفوس، موقعيت او جغرافياوي تقسيماتو په هکله اټکلونه وکړي. سربېره پر دې DTM د تحرکاتو په اړه نور معلومات هم راټولوي چې په دې معلوماتو کې د بېځايه کېدنې او راستنېدو لاملونه، اصلي او د موخې سيمې، د بېځايه کېدنې او راستنېدو مهال، بياځلي بېځايه کېدنه، د جمعيتونو شمېر، د زيانمنتيا کچه او اوليه اړتياوې شامليږي.

DTM په عمده ډول د يوې سيمې د ارزونې لپاره د هماغې سيمې وګړي د سيمه ايزو کارکوونکو په توګه په کار ګماري. دا کارکوونکي له کليدي معلومات ورکوونکو سره د ډله ايزو بحثونو له لارې د کليو په کچه کميتي معلومات راټولوي. سيمه ايز کارکوونکي د مستقيمو کتنو له لارې هم د ژوند شرايط، لومړني خدمات، امنيت او ټولنيز-اقتصادي حالت په اړه کيفي معلومات راټولوي.

د امنيتي خطرونو له امله سيمه ايز کارکوونکي نشي کولای سيمې ته سمارټ ټليفونونه يا ټابليټونه انتقال کړي له همدې امله دوی هره ورځ د يوې کاغذي فورمې په وسيله معلومات راټولوي. په دې فورمه کې د تېر پړاو راټول شوي معلومات هم شتون لري ترڅو د موجود معلوماتو له شتون څخه تاييد وشي او د ارزونې پروسه په ګړنديتوب سره پر مخ ولاړه شي. بشپړې شوې فورمې هره اونۍ د DTM ولايتي دفتر ته سپارل کېږي ترڅو د ټيم مشر او د معلوماتو راجستر کوونکي له لوري تري کتنه او تصويب وشي. کله چې دا فورمې تاييد شوې نو د موبايلونو په مرسته په الکترونکي توګه د کوبو فورمونو له کارولو سره په مستقيم ډول د DTM مرکزي SQL کې چې په کابل کې ده ځای پرځای کېږي. وروسته بيا دا ډېټا يا معلومات هم په اتومات او هم په انفرادي توګه هره ورځ تصفيه او تاييد کېږي. دا دقيقه بياکتنه ډاډ ترلاسه کوي چې د DTM ډېټا ترټولو لوړ کيفيت، دقت او صداقت ولري.

کله چې DTM د لومړي ځل لپاره په يو ولايت کې ارزونه ترسره کوي نو ساحوي کارکوونکي معلومات يا ډېټا په دوه پړاونو کې چې دوه دوه برخې لري راټولوي:

۱. د ولسوالۍ په کچه ارزونه (B۱): د دې ارزونې موخه د هغو کليو پېژندنه ده چې ترټولو زيات افغان وګړي ورته تللي او يا ترې وتلي وي او د موخې وړ جمعيتونو شمېر په هکله اټکل کوي.

۲. د کليو په کچه ارزونه (B۲): دا ارزونه د B۱ ارزونې د پايلو پر بنسټ د راغليو او وتليو افغان وګړو په اړه د موخې وړ جمعيتونو لپاره په هغو کليو کې معلومات راټولوي چې د B۱ په ارزونه کې پېژندل شوي ول. د کليدي معلومات ورکوونکو د راجع کولو وروسته نوي کلي هم تشخيص او ارزول کېږي.

ځکه چې DTM ټول ۳۴ ولايتونه ارزولي دي په راتلونکي کې به يوازې د کليو په کچه ارزونې ترسره شي. DTM په پام کې لري چې په کال کې به دوه ځلې د هېواد په کچه د تحرکاتو بنستيزې ارزونې ترسره کړي چې دا کار د بودجې د دوام پورې اړوند دی.

## کليدي معلومات ورکوونکي

د DTM ساحوي کارکوونکي د کليو په کچه معلومات له کليدي معلومات ورکوونکو څخه د ډله ايزو بحثونو له لارې راټولوي. ساحوي کارکونکي د ټولنې د ارزونې پر مهال د ژوندانه شرايط او د څو سکټوريزو خدمتونو شتون هم ارزوي. په لږو مواردو کې داسې کېږي چې د امنيتي اندېښنو او يا د دولت د مخالفينو ډلو د بريدونو له امله، د DTM سيمه ايز کارکوونکي نشي کولای سيمې ته ولاړ شي نو هغوي غونډې او ډله ايز بحثونه د کليو څخه بهر يا په خونديو سيمو کې ترسره کوي او يا هم ارزونې د موبايل له لارې مخکې وړي.

DTM پروګرام په فعاله توګه وکولای شو د ښځينه کارکونکو له ګمارلو سره په ډله ايزو بحثونو کې د جنډر د شموليت د لا ښه کولو لپاره لوی ګام واخلي، که څه هم دا يو ننګونکی کار وه. سره له دې اوس هم پرمختګ ته اړتيا شته. که څه هم په بغلان ولايت کې د کليدي معلوماتو ورکوونکو له ډلې څخه يوازې ۵٪ يې ښځې دي خو دا شمېر که څه هم لږ دی خو بيا هم د ۲۰۱۷ کال مارچ مياشتې د هېواد د کچې ښځينه کليدي معلومات ورکوونکو شمېر (۰.۱٪) په پرتله پرمختګ ښيي.

**۳،۲۷۱**
کليدي معلومات ورکوونکو سره مرکه ترسره شوه

**۷۳**
کليدي معلومات ورکوونکي يا راستنيدونکي دي او يا هم داخلي بېځايه شوي (۲٪)

**۱۷۹**
ښځينه کليدي معلومات ورکوونکي (۵٪)

**۵۴۶**
له کوربه ټولنو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۱۷٪)


**۳،۰۹۲**
نارينه کليدي معلومات ورکوونکي (۹۵٪)

**۴۳۳**
څو سکټوريز او ټولنيزو خدماتو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۱۶٪)


**۵,۸**
په هرې ډله ايزې مرکې کې د کليدي معلومات ورکوونکو اوسط شمېر

**۱،۳۵۹**
له سيمه ايزو چارواکو څخه کليدي معلومات ورکوونکي (۴۲٪)

د ډول پر بنسټ کليدي معلومات ورکوونکي | بغلان




د ډول او جنسيت پر بنسټ کليدي معلومات ورکوونکي | بغلان



# بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي

راستنېدونکي هغه افغانان دي چې په بهرنيو هېوادونو کې لږترلږه د شپږو مياشتو تېرولو وروسته بېرته افغانستان ته ستانه شوي او په ارزول شويو سيمو کې ځای پر ځای شوي وي. راستنېدونکي دوه ډوله دي: اسناد لرونکي راستنېدونکي (هغه کډوال چې په کوربه هېوادونو کې راجستر شوي وي او وروسته بيا UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو ته يې د رضاکارانه راستنېدلو غوښتنه کړې وي) او اسناد نلرونکي راستنېدونکي (هغه افغانان چې په خپله خوښه راستانه شوي او يا شړل شوي دي، پرته له دې چې دا په پام کې ولرو چې له UNHCR او اړوند حکومتي چارواکو سره ثبت ول او که نه).

بهرنيو هېوادونو څخه بغلان ولايت ته د راستنېدونکو شمېر د ۲۰۱۲-۲۰۱۵ دورې په پرتله په ۲۰۱۶ کال کې ۶۱٪ زياتوالی شيي خو په ۲۰۱۷ کال کې ۲۰٪ کموالی او په ۲۰۱۸ کال کې ۷۵٪ کموالی شيي.

**۱۲۳،۳۶۸**
بهرنيو هېوادونو څخه راستنېدونکي


**۶۸،۵۵۷**
پاکستان څخه راستنېدونکي (۵۶٪)


**۵۶،۷۰۵**
له ایران + پاکستان څخه اسناد نلرونکي راستنېدونکي (۴۶٪)


**۴۸،۴۱۸**
ایران څخه راستنېدونکي (۳۹٪)


**۶۰،۲۷۰**
له ایران + پاکستان څخه اسناد لرونکي راستنېدونکي (۵۲٪)


**۴۸،۴۱۸**
غیر ګاونډیو هېوادونو څخه راستنېدونکي (۵٪)




# رارسېدلي داخلي بېځایه شوي کسان

دا کسان هغه افغانان دي چې د نا امنـۍ یـا وسلـه والـو جګـړو، تاوتریخوالـی، د بـشري حقونـو سرغړونـې، د خونديتـوب اندېښـنې او د طبيعـي پېښـو یـا د انسان پـه لاس جـوړې شـوې پېښـو څخـه د خونديتـوب پـه موخـه خپلـو سيمـو څخـه بېځایـه شـوي دي او ارزول شـوي/ کوربـه ټولنـو تـه تللي او هلتـه ژونـد کـوي.

**۶۶،۷۸۳**
په کوربه ټولنو کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان

**۸۷٪**
د کړکېچ له امله بېځايه شوي


**۲۴،۶۷۵**
بغلان جدید ولسوالۍ کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان – د ولايت په کچه تر ټولو لوړ شمېر

**۱۳٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځايه شوي


**۹،۴۱۵**
داخلي بېځايه شوی په غیر رسمي سیمو کې مېشت دی (۱۴٪)

**۹۰٪**
په خپل اصلي ولايت کې بېځايه شوي


رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | کلنۍ بهير | بغلان




د ولسوالی پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | بغلان





د اصلي ولايت پر بنسټ رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | بغلان




د ولسوالی پر بنسټ غیر رسمي سیمو کې مېشت داخلي بېځايه شوي کسان | بغلان





رارسېدلي داخلي بېځايه شوي کسان | پناه ځای | بغلان



# ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځایه شوي)

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | بغلان





## ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) د ولسوالۍ پر بنسټ لنډیز

| ولسوالۍ | راستنېدونکي | رارسېدلي داخلي بېځایه شوي | ټولټال راغلي کسان |
|---|---|---|---|
| بغلان جدید | ۳۷,۴۹۶ | ۲۴,۶۷۵ | ۶۲,۱۷۱ |
| پلخمري | ۲۳,۰۵۶ | ۲۲,۴۲۷ | ۴۵,۴۸۳ |
| دوشي | ۱۷,۶۷۹ | ۲,۹۸۷ | ۲۰,۶۶۶ |
| نهرین | ۹,۴۵۱ | ۶,۳۵۸ | ۱۵,۸۰۹ |
| برکه | ۸,۷۶۵ | ۴,۱۶۱ | ۱۲,۹۲۶ |
| دهنه غوري | ۸,۲۵۹ | ۱,۸۳۴ | ۱۰,۰۹۳ |
| خنجان | ۴,۴۰۲ | ۱,۱۵۶ | ۵,۵۵۸ |
| تاله و برفک | ۳,۵۲۳ | ۹۹۴ | ۴,۵۱۷ |
| خوست و فرنگ | ۳,۳۹۸ | ۵۸۸ | ۳,۹۸۶ |
| پل حصار | ۲,۲۱۱ | ۵۵۳ | ۲,۷۶۴ |
| خواجه هجران | ۱,۶۳۸ | ۲۰۳ | ۱,۸۴۱ |
| اندراب | ۹۷۳ | ۴۶۲ | ۱,۴۳۵ |
| ده صلاح | ۱,۰۵۶ | ۲۲۴ | ۱,۲۸۰ |
| گذرگاه نور | ۱,۱۳۲ | ۴۲ | ۱,۱۷۴ |
| فرنگ و غارو | ۳۲۹ | ۱۱۹ | ۴۴۸ |
| عمومي مجموعه | ۱۲۳,۳۶۸ | ۶۶,۷۸۳ | ۱۹۰,۱۵۱ |


په عمومي توګه بغلان ولایت له ټولټال ۱۹۰،۱۵۱ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي چې ۶۵٪ (۱۲۳،۳۶۸ کسان) راستنېدونکي او ۳۵٪ (۶۶,۷۸۳ کسان) داخلي بېځایه شوي دي. په لاندې جدول کې د بغلان ولایت ۲۰ کلي ښودل شوي چې ترټولو زیاتو بېځایه شویو او راستنېدونکو راتګ څخه اغیزمن شوي. دا ۲۰ کلي (د بغلان ولایت ۵۶۱ ارزول شویو کلیو څخه ۴٪) د ټول ولایت ۲۳٪ راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي. دا کلي د ټولنو بې ثباتۍ پر وړاندې چې د راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو لوړ شمېر راتګ سره رامنځ ته شوې حساس او زیانمن دي او دا کار له پخوا نه محدودې شوې سرچینې او کاري فرصتونو لا نور هم محدود کوي. له دې ۲۰ زیانمنو کلیو څخه ۹ کلي یې په بغلان جدید ولسوالۍ کې موقعیت لري او د دې جدول ۴۳٪ (۱۹,۱۰۹) راستنېدونکو او داخلي بېځایه شویو څخه کوربه توب کوي.

## ۲۰ لومړني کلي چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلی بېځایه شوي لري

| رده بندی | کلي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|---|
| ۱ | زوراَبي | دوشي | ۹,۱۸۹ |
| ۲ | بیسقل | بغلان جدید | ۴,۴۱۵ |
| ۳ | نوآباد بازلقي ها | بغلان جدید | ۳,۲۴۸ |
| ۴ | منقتان پایین | بغلان جدید | ۲,۴۰۱ |
| ۵ | هجده کوتل | پلخمري | ۱,۸۵۹ |
| ۶ | حافظه بچه | نهرین | ۱,۷۷۸ |
| ۷ | کل | برکه | ۱,۷۵۲ |
| ۸ | تپه فرهت | پلخمري | ۱,۷۳۲ |
| ۹ | غوربندي ها | بغلان جدید | ۱,۷۰۰ |
| ۱۰ | نهرین | نهرین | ۱,۶۷۱ |
| ۱۱ | چپه میدان | برکه | ۱,۶۴۸ |
| ۱۲ | لقي ها | بغلان جدید | ۱,۶۳۴ |
| ۱۳ | غلام بای | بغلان جدید | ۱,۵۱۷ |
| ۱۴ | چهار شنبه تپه (۱) | بغلان جدید | ۱,۴۴۴ |
| ۱۵ | حسین خال نمبر دوری بالا (۳) | پلخمري | ۱,۴۰۳ |
| ۱۶ | شش کپه | بغلان جدید | ۱,۳۸۵ |
| ۱۷ | وزغري | پلخمري | ۱,۳۸۱ |
| ۱۸ | قره برق بالا | بغلان جدید | ۱,۳۶۵ |
| ۱۹ | پارک شمرق | پلخمري | ۱,۳۵۸ |
| ۲۰ | خواجه الوان های نعمان | پلخمري | ۱,۳۱۹ |
| | | مجموعه | ۴۴,۱۹۹ |



د ولسوالۍ پر بنسټ ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + رارسېدلي داخلي بېځايه شوي)



د راستنېدونکو د موخې ور ولسوالۍ کانې

# داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې


دا هغه افغانان دي چې له یوې ارزول شوې سیمې څخه چې هلته یې پخوا ژوند کاوه د افغانستان دننه یوې بلې سیمې ته تللي دي تر څو د وسله والو جګړو، تاوتریخوالي، د بشري حقوقو سرغړونې، د خونديتوب اندېښنې او طبیعي پېښو یا د انسان په لاس جوړو شویو پېښو څخه خوندي ووسي.


**۱۱۳،۵۶۸**
داخلي بېځایه شوي چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې


**۶۵٪**
په عین ولایت کې نورو سیمو ته تللي دي

**۶۸٪**
د کړکېچ له امله بېځایه شوي

**۳۲٪**
د طبیعي پېښو له امله بېځایه شوي



د هغو داخلي بېځایه شویو اصلي ولسوالۍ ګانې چې خپلې اصلي سیمې یې پرېښې

# راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان

راستانه شـوي داخلي بېځایـه شـوي هغـه افغانـان دي چـې خپلو سـیمو تـه چې ارزول شـوي سـیمې دي او پخوا یې پرېښـي وي بېرته سـتانه شـوي دي. دوی پخوا له دې سـیمو څخه تللي ول ترڅـو د وسـله والـو جګړو، تاوتریخـوالي، د بشري حقوونو سرغړونې، د خوندیتوب اندیښـنې او طبیعـي پیښـو یـا د انسـان په لاس جوړ شـویو پیښـو لـه اغېزو څخه خونـدي ووسي.


**۲۹۵,۶۴۸**
راستانه شوي داخلي بېځایه شوي

**۹۳٪**
وګړي د ولایت دننه نورو سیمو څخه راستانه شوي


**۶ څخه ۵**
پخواني داخلي بېځایه شوي کس یوازې ۳ ولسوالیو ته راستون شوي: بغلان جدید، پلخمري او دهنه غوري (۸۷٪)


**۵ څخه ۲**
د ټولو راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې ۴۱٪ کسان بغلان جدید ولسوالۍ ته راستانه شوي

د ولسوالۍ پر بنسټ راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | بغلان




راستانه شوي داخلي بېځایه شوي کسان | کلنی بهیر | بغلان



# بهرنيو هيوادونو ته کډوال شوي کسان

دا هغه افغانان دي چې له يوې ارزول شوي سيمې څخه د هر دليل، عامل او يا موده لپاره له هيواد څخه بهر تللي او يا کډوال شوي دي. په دې کټګورۍ کې پناه غوښتونکي، بېځايه شوي کډوال او هغه کسان شامليږي چې افغانستان يې د اقتصادي ستونزو له امله پرېښی وي.


**۱۰۲،۳۵۹**
د هيواد څخه بهر تللي دي

**۱۷،۸۰۶**
اروپايي هيوادونو ته تللي دي (۱۷٪)


**۶۷،۸۳۶**
ايران ته تللي دي (۶۶٪)

**۱۶،۰۸۲**
پاکستان ته تللي دي (۱۶٪)


بهرنيو هيوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهير | بغلان





د ولسوالی پر بنسټ بهرنيو هيوادونو ته کډوال شوي کسان | بغلان





ترکيه او اروپايي هيوادونو ته کډوال شوي کسان | کلنی بهير | بغلان





ايران ته کډوال شوي کسان | کلنی بهير | بغلان




د هيواد پر بنسټ بهرنيو هيوادونو ته کډوال شوي کسان/د موخې سيمه | بغلان




پاکستان ته کډوال شوي کسان | کلنی بهير | بغلان



# سکټوریزې اړتیاوې

## ۵ لومړیتوب لرونکې ولسوالۍ

مرستو او لومړنیو خدمتونو لپاره د شواهدو پر بنسټ لومړیتوب ورکول اړین دي. DTM د ولایت، ولسوالۍ او کلیو په کچه، د څو شاخصه سکټورونو پر بنسټ همکارو سازمانونو ته د لومړیتوب لرونکو سیمو یا د هغو سیمو لسټ چمتو کوي چې ترټولو زیات مرستو ته اړتیا لري.

(یاددښت: د هغو کسانو شمیر چې لاندې یې راپور ورکړ شوی د ټولټال راغلیو کسانو (داخلي بېځایه شوي+ راستنېدونکي) پر بنسټ دی).

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې تر ټولو زیات راستنېدونکي او داخلي بېځایه شوي لري (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بغلان جدید | ۶۲,۱۷۱ |
| ۲ | پلخمري | ۴۵,۴۸۳ |
| ۳ | دوشي | ۲۰,۶۶۶ |
| ۴ | نهرین | ۱۵,۸۰۹ |
| ۵ | برکه | ۱۲,۹۲۶ |
| | عمومي مجموعه | ۱۵۷,۰۵۵ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې پناه ځای ته اړتیا لري (راستنېدونکي+داخلي بېځایه شوي چې په خېمو او آزاده فضا کې ژوند کوي)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | خواجه هجران | ۷۶ |
| ۲ | خنجان | ۵۶ |
| ۳ | وجود نلري | وجود نلري |
| ۴ | وجود نلري | وجود نلري |
| ۵ | وجود نلري | وجود نلري |
| | عمومي مجموعه | ۱۳۲ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې د څښاک اوبو ته اړتیا لري (د څښاک اوبه > ۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بغلان جدید | ۱۹,۱۶۵ |
| ۲ | نهرین | ۵,۰۸۸ |
| ۳ | دهنه غوری | ۲,۶۵۴ |
| ۴ | برکه | ۱,۱۴۷ |
| ۵ | پلخمري | ۱,۰۴۵ |
| | عمومي مجموعه | ۲۹,۰۹۹ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې روغتیايي ځانګو ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې کلینیک >۵ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | پلخمري | ۲۶,۹۲۵ |
| ۲ | بغلان جدید | ۱۸,۰۲۱ |
| ۳ | دوشي | ۱۴,۷۲۵ |
| ۴ | دهنه غوری | ۹,۱۵۷ |
| ۵ | نهرین | ۵,۳۹۳ |
| | عمومي مجموعه | ۷۴,۲۲۱ |


### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې ښوونځۍ ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې ښوونځۍ >۳ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بغلان جدید | ۲۲,۸۱۶ |
| ۲ | دوشي | ۱۰,۱۹۷ |
| ۳ | پلخمري | ۸,۳۵۴ |
| ۴ | دهنه غوری | ۱,۸۷۳ |
| ۵ | برکه | ۱,۳۲۴ |
| | عمومي مجموعه | ۴۴,۵۶۴ |

### پنځه لومړنۍ ولسوالۍ چې بازار ته اړتیا لري (تر ټولو نیږدې بازار > ۱۰ کیلومتره لرې)

| رده بندي | ولسوالۍ | وګړي |
|---|---|---|
| ۱ | بغلان جدید | ۳۳,۳۵۶ |
| ۲ | پلخمري | ۲۳,۸۵۱ |
| ۳ | دوشي | ۱۷,۸۳۳ |
| ۴ | دهنه غوری | ۶,۴۶۶ |
| ۵ | نهرین | ۴,۲۸۱ |
| | عمومي مجموعه | ۸۵,۷۸۷ |

ټولټال راغلي کسان (راستنېدونکي + داخلي بېځایه شوي) | پناه ځای | بغلان




## د یوه بېځایه شوي کیسه

### له بلواګرو څخه په تېښته کې

د ۲۰۱۶ کال د سپتمبر په ۱۵ بلواګرو د عبدالحمید ۲۴ کلن زوی محمد موسی وروسته له دې چې دولت سره د همکارۍ په تور یې محکوم کړ هغه یې ووژه. محمد موسی نوی نامزاد شوی وه. د درېو ورځو وروسته کله چې د عبدالحمید د کورنۍ نور غړي هم د بلواګرو لخوا وګواښول شول عبدالحمید او د هغه کورنۍ خپل کلی، کنج شور، پرېښوده او د پلخمري ولایت قول آهن دره کلي ته ولاړل.

دا کورنۍ د ۶ میاشتو لپاره پلخمري کې پاتې شوه خو په دې ۶ میاشتو کې عبدالحمید ونشو کولای چې کومه دنده پیدا کړي. دا ۱۰ کسیزه کورنۍ په یو کرايي کور کې اوسېده او د کرايې ورکول د دې کورنۍ لپاره ستونزمن وه نو ځکه عبدالحمید او د هغه کورنۍ پرېکړه وکړه چې د مرګ د تهدید سربېره خپل کلي ته ستانه شي. وروسته له ۶ میاشتو د بلواګرو ډلې دوی بیا وګواښول او مجبور یې کړل چې بېرته پلخمري ته ولاړ شي. دوی د ۸۵،۶۰۱ راستانه شویو داخلي بېځایه شویو له ډلې څخه دي چې بېرته پلخمري ولسوالۍ ته ستانه شول. سره له دې په پلخمرۍ ولسوالۍ کې دې کورنۍ پناه ځای او خواړو ته لاسرسی نه درلوده او په پایله کې ډېر غریب شول.

د عبدالحمید ماشومان کار کوي او ښوونځۍ ته د تګ مصارف نشي پوره کولای.

"که چېرې هغوی ښوونځۍ ته ولاړ شي مونږ به له لوږې مړه شو. ما تر اوسه له دولت او یا کوم بل سازمان څخه هېڅ مرسته نه ده ترلاسه کړې. زما تر ټولو لوی تشویش زما د زامنو زدکړه ده ځکه چې اوسمهال د کورنۍ خراب اقتصادي وضعیت له امله هغوی له ښوونځۍ څخه لرې پاتې دي."

* د یادونې وړ ده چې په دې کیسې کې نومونه بدل شوي او د سیمې نوم نده یاد شوی ترڅو د هغوی پېژندګلوۍ خوندۍ ووسي.


د ډېریو داخلي بېځایه شویو په شان عبدالحمید شدیداً د مرستو په تمه ده ترڅو وکولای شي خپل ماشومان ښوونځۍ ته واستوي. © IOM ۲۰۱۸

International Organization for Migration
Route des Morillons 17
P.O. box 17
Geneva 19 1211
Switzerland

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)
کور #۲۷
سړک ۴
د انصاري څلورلاره
شهر نو
کابل، افغانستان

هغه معلومات چې په دې راپور کې کارول شوي د IOM-افغانستان سازمان او د DTM نړیوال ملاتړ ټیم په ګډې همکارۍ راټول شوي دي. هغه مسایل او توکي چې د کار په ترځ کې کارول شوي په هېڅ بڼه د کوم هېواد قانوني حالت، ملکیت، سیمه او یا هم د هغه د چارواکو او یا مرزونو په هکله د کډوالۍ د نړیوال سازمان له هېڅ نظر یا باورونو پورې اړوند ندي.

د کډوالۍ نړیوال سازمان (© IOM ۲۰۱۸)

د لا زیاتو معلوماتو لپاره او د ډاونلوډ وړ نقشو، ډېټابېسونو، متحرکو نقشو او داشبورډونو ته د لاسرسي لپاره مهرباني وکړئ د DTM-افغانستان انټرنټي پاڼه وګورئ.

www.displacement.iom.int/afghanistan

**مونږ سره په اړیکه کې شئ**

د لا زیاتو معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د DTM ټیم سره په اړیکه کې شئ:

DTMAfghanistan@iom.int

facebook.com/iomafghanistan

twitter.com/iomafghanistan

instagram.com/iomafghanistan

په افغانستان کې د ډي ټي ام مالي ملاتړ کوونکي
Canada · MOFAT · Norwegian Ministry of Foreign Affairs · Italian Agency for Development Cooperation · Co-funded by the European Union · په همغږي سره